# شتمنۍ SHTAMANI
اوونیزه

د افغانستان اسلامي امارت

د مالیې وزارت


**د روژې مبارکې فضائل**

**رسول الله** صلی الله علیه وسلم **فرمایي:** ځوک چي د روژې په میاشت کي ( د الله د رضا لپاره) په یو روژه دار باندي روژه ماتی وخوري؛ نو دا به د ده لپاره د گناهونو د مغفرت او له جهنم څخه د آزادېدو ذریعه وگرځي او ده ته به د روژه دار ثواب ورکول کېږي؛ خو د روژه دار په ثواب کي به هیڅ کمی نه راځي.
[مشکاة المصابیح کتاب الصوم الفصل الثالث رقم الحدیث ۱۹۶۵]

**فضائل ماه مبارک رمضان**

**رسول الله** صلی الله علیه وسلم **می فرماید:** کسی که در ماه مبارک رمضان ( بخاطر رضای الله متعال) یک روزه دار را افطاری بدهد، پس آن برای او ذریعه آمرزش گناهان ونجات از آتش دوزخ می گردد، و به اندازه آن روزه دار برایش ثواب حاصل می شود ،اما در ثواب روزه دار هیچ کمی نمی آید. [مشکاة المصابیح کتاب الصوم الفصل الثالث رقم الحدیث ۱۹۶۵]

**( د مالیې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست، له لوري)**


شنبه | د رمضان المبارک ۲۰ - ۱۴۴۵ل س/ د وری ۱۱ - ۱۴۰۳ل ل/ د مارچ ۳۰ - ۲۰۲۴ز/دوهم کال / ۹۳ گڼه/ ٤ مخیز

۱


## سر مقاله

### حکومتداری الکترونیکی

حکومتداری الکترونیکی یا (E-Government به معنای استفاده از فناوری اطلاعات و ارتباطات برای ارائه خدمات دولتی به شهروندان و تعامل بین دولت و شهروندان است. در حکومتداری الکترونیکی، فرآیندهای اقتصادی، اداری و خدمات دولتی به طور آنلاین و الکترونیکی ارائه می شوند. این شامل ارائه اطلاعات، جمع آوری عواید به گونه الکترونیکی، پرداخت های آنلاین، ثبت نام آنلاین، ارسال درخواست‌ها و دریافت مدارك، و سایر خدمات مشابه می باشد. حکومتداری الکترونیکی به دولت‌ها کمك می کند تا فرآیندهای اداری و اقتصادی خویش را بهبود بخشیده و خدمات دولتی را به شهروندان به صورت سریعتر، موثرتر و شفاف‌تر ارائه دهند. نقش حکومتداری الکترونیکی یا (E-Government) می تواند به اقتصاد کشور نیز نهایت موثر باشد. در حکومتداری الکترونیکی شهروندان میتوانند به خدمات دولتی به صورت انلاین دسترسی کامل داشته باشند که این امر باعث می شود تا از ضیاع وقت جلوگیری و استفاده از حکومتداری الکترونیکی زمان و هزینه های مرتبط با فرایندهای اداری را کاهش دهد. مضافاً حکومتداری الکترونیکی میتواند شفافیت را در فرایند کارهای دولتی افزایش دهد. ارائه خدمات الکترونیکی به شهروندان و کسب و کارها، فرصتی را برای مشاهده و ارزیابی عملکرد دولت فراهم می‌کند. اینکه وزارت مالیه مسئولیت جمع آوری عواید را به عهده دارد، میتواند با استفاده تکنالوژی عواید را به گونه شفاف از سراسر کشور جمع آوری نموده و در کاهش هزینه های دولتی نیز نقش نهایت موثر داشته باشد که معمولاً فرآیندهای الکترونیکی سریع‌تر، خطاکم‌تر و قابل اطمینان‌تر هستند که باعث بهبود کارایی دوایر دولتی می شود. حکومتداری الکترونیکی امکان انجام تجارت الکترونیکی را بیشتر تسهیل می‌کند. با ایجاد زیرساخت‌های الکترونیکی، سازمان ها میتوانند به صورت آنلاین کسب و کار خود را راه اندازی کنند، محصولات و خدمات خود را به بازارهای بین‌المللی عرضه کنند و معاملات مالی را به صورت الکترونیکی انجام دهند. این امر باعث رشد تجارت الکترونیکی در کشور می شود و به کاهش نرخ بیکاری در کشور منجر شده و اقتصاد کشور را رونق بیشتر می دهد. به طور کلی، حکومتداری الکترونیکی یك رویکرد استراتژیك است که هدف آن بهبود ارتباط و ارائه خدمات دولتی به شهروندان با استفاده از فناوری اطلاعات و ارتباطات است. هر کشوری می تواند بر اساس نیازمندی و منابع خود، نظام حکومتداری الکترونیکی خود را طراحی و پیاده سازی کند. این می‌تواند شامل توسعه سیستم انلاین، ایجاد پلتفرم‌های تعاملی، ارائه آموزش‌های مرتبط با استفاده از تکنالوژی به کارکنان دولتی و شهروندان، و ایجاد قوانین و مقررات مرتبط با حمایت از حکومت داری الکترونیکی است. موفقیت حکومت داری الکترونیکی نیازمند توجه به جوانب فنی، اداری، امنیتی و قانونی است. همچنین، تأمین منابع مالی و فنی، آموزش و آگاهی شهروندان، ایجاد همکاری و هماهنگی میان دولت و بخش خصوصی، و رعایت حقوق حریم خصوصی و امنیت اطلاعات نیز از جوانب مهم در پیاده سازی حکومتداری الکترونیکی می‌باشد. در سال‌های اخیر، وزارت مالیه تلاش کرده است تا تمامی بخش های مرتبط خویش را توسعه داده و خدمات دولتی، جمع آوری عواید مالیاتی و غیر مالیاتی و تمامی گمرکات کشور را به صورت الکترونیکی مزین نماید. با این حال، پیاده سازی حکومتداری الکترونیکی نیازمند زمان، تلاش و تعهد دولت و جامعه است و همچنین باید با توجه به شرایط و نیازهای خاص هر کشور انجام شود.

**با احترام**
**اداره**

## مالیې وزارت له یوه خصوصي شرکت سره د سوداګریز مارکېټ د جوړولو تړون لاسلیک کړ



د مالیې وزارت او یوه خصوصي ودانیز شرکت ترمنځ د کابل ښار په میرویس میدان (کوټه سنګي) سیمه کي د یوې ستري او معیاري سوداګریزي ودانۍ د جوړولو تړون لاسلیك سو، چي په دوه جریبه ځمکه کي به جوړه سي. په همدې تړاو جوړه سوې ناسته کي د نظام یو شمېر لوړ پوړو مسؤلینو حضور درلود. په دې سوداګریز مارکېټ کي به د کمال ظفر خصوصي شرکت له لوري د (۴،۵) میلیونه ډالرو پانګوني سره، په (۱۲) پوړونو کي (۳۰۰) سوداګریز دوکانونه ورغول سي، چي ورسره به سلګونو کسانو ته په مستقیم ډول د کار کولو زمینه برابره سي. دغه سوداګریز مرکز به د دریو کلونو په موده کي ورغول سي، چي له درکه به ئې په کال کي (۳۸) میلیونه افغانۍ عواید د دولت خزانې ته ور اضافه کېږي. د یادوني وړ ده، چي په دغه غونډه کي د یو شمېر نورو دولتي ادارو او خصوصي کورنیو او بهرنیو شرکتونو ترمنځ، د شاوخوا (۴) میلیارډه افغانیو په ارزښت د برېښنا د تولید او په رغنیزو برخو کي د مهمو پروژو قراردادونه هم لاسلیك سول.

## د تېري اداري سلګونو تنو کارکوونکو ته د ۱۴۰۰ کال د زمري میاشتي معاشونه ورکړل سول

د مالیې وزارت اړوند د ساتني او ځانګړو عملیاتو تنفیذي قطعې د وړاندیز او د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء عالي مقام د حکم پر بنسټ؛ د یادي قطعې (۱۲۱٦) تنه پخوانیو افسرانو، ساتنمنانو او ساتونکو ته د (۱۴۰۰ هـ.ل) کال د زمري میاشتي معاشونه، چي پر مخکینۍ اداري پاتي ول، ورکړل سول. د دغو پخوانیو کارکوونکو معاشونه د تېري اداري د معاشاتو د توزیع د نورم مطابق له ټولو مالي امتیازاتو سره حواله سول. په دغه کارکوونکو کي (۱۲۸) تنه افسران، (۲۱۵) تنه ساتنمنان او (۸۷۳) تنه ساتونکي شامل دي. همدارنګه له دغي ډلي څخه د یو شمېر کارکوونکو بانکي حسابونه تړل سوي ول، چي د قطعې د قوماندانۍ لخوا په اړوند بانك باندي د حساب د تائیدولو او خلاصولو په موخه رسمي استعلامونه هم ورکړل سول؛ ترڅو خپل معاشونه په اسانۍ سره ترلاسه کړي. د ځانګړو عملیاتو تنفیذي قطعه د مالیې وزارت د بنسټونو ساتنه کوي، په غیر قانوني ډول د توکو د ورود او خروج، د توکو د قاچاق او عوایدو د تېښتي مخنیوی کوي.

## د مالیې وزارت لپاره نوی اداري معین معرفي سو



د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله) د حکم پر بنسټ، مولوي دوست محمد مخلص د مالیې وزارت د اداري معین په توګه له تاکل کېدو وروسته د یو شمېر مسؤلینو له لوري معرفي سو. مولوي دوست محمد مخلص، چي له دې وړاندي د عوایدو لوی ریاست د تنفیذ او مالیاتي اطاعت پذیرۍ رئیس وو؛ د مالیې وزارت اړوندو چارو کي د ښې کاري تجربې څخه برخمن دئ، چي ورسره به د دغه وزارت په اړوندو چارو کي لا ډېر ښه والی رامنځته سي.





**د مالیې وزارت د عوایدو او ګمرکونو معین د فراه ولایت له مستوفیت څخه لیدنه وکړه**

م ۲



**د عوایدو لوی ریاست رهبري پلاوي مراجعینو ته د اسانتیاوو رامنځته کولو په موخه ناسته وکړه**

م ۲



**د عوایدو لوی ریاست اړوند د بررسۍ ریاست کارکوونکو ته روزنیز پروګرام جوړ سو**

م ۲



**د کندهار، هلمند او نیمروز په ولایتونو کي زیات قاچاقي درمل نیول سوي دي**

م ۲



**مالي بازارونه او په افغانستان کې ئې اړتیا**

م ۳



**د پاک ـ افغان ټرانزیټي سوداګرۍ خبري نن پیلېږي**

م ٤

## د کندهار، هلمند او نیمروز په ولایتونو کې زیات قاچاقي درمل نیول سوي دي




د کندهــار، هلمنــد او نیمــروز ولایتونــو د گرځنــده څــارني ځیرکــو کارکوونکــو د یــادو ولایتونــو پــه بېلابېلــو ســیمو کــي (۷۸٦۰) کیلــو گرامــه انســاني طبــي درمــل، چــي قاچاقچیانــو غوښــتل پــه قاچاقــي ډول ئــې لــه گاونــډي هیــواد څخــه افغانســتان تــه راوړي، ونیــول. نیول سوي درمل د نورو اجراآتو لپاره اړوندو گمرکونو ته سپارل سوي دي.

## د کندهار، هرات او نیمروز په ولایتونو کي یو شمېر قاچاقي توکي نیول سوي دي




د کندهــار، هــرات او نیمــروز گمرکونــو د گرځنــده څــارني ویښــو کارکوونکــو د یــادو ولایتونــو پــه بېلابېلــو ســیمو کــي د یــو شــمېر توکــو لــه قاچــاق څخــه مخنیــوی کــړی. پــه نیــول ســوو توکــو کــي (۱۳۵۰) کیلــو گرامــه چاکلېــټ، (۲۰۰) کیلــو گرامــه شــیدې، (۷۲۱) کیلــو گرامــه درمــل او (٦۷۵) کیلــو گرامــه خرمــا شــامله ده، قاچاقچیانــو غوښــتل، چــي پــه پټــه ئــې هیــواد تــه راوړي. همــدا راز یــادو کارکوونکــو (۳۰۰۰) کیلــو گــرام مــس او المونیــم هــم نیــولي، چــي قاچاقاچیانــو غوښــتل پــه قاچاقــي ډول ئــې گاونــډي هیــواد تــه یــوسي. یاد نیول سوي توکي د نورو اجراآتو په موخه اړوندو گمرکونو ته سپارل سوي دي.

## د مالیې وزارت د عوایدو او گمرکونو معین د فراه ولایت له مستوفیت څخه لیدنه وکړه




د مالیــې وزارت د عوایــدو او گمرکونــو معیــن ښــاغلي مــلا عبدالقاهــر (حاجــي ادریــس) فــراه ولایــت تــه پــه خپــل رســمي ســفر کــي د دغــه ولایــت لــه مســتوفیت څخــه لیدنــه وکــړه . پــه دغــه لیدنــه کــي چــي د یــاد ولایــت مســتوفي او کارکوونکــو حضــور درلــود، د عوایــدو او گمرکونــو ښــاغلي معیــن د دوی د کارونــو او زحمتونــو د ســتاینې ترڅنــگ دوی تــه یــو لــړ لازمــي سپارښــتني هــم وکــړې. د یــادوني وړ ده، چــي لــه دې وړانــدي هــم ښــاغلي مــلا عبدالقاهــر (حاجــي ادریــس) د یــو شــمېر ولایتونــو مســتوفیتونه لــه نــږدې لیــدلي او د چــارو ارزونه ئې کــړې وه.

## د عوایدو لوی ریاست رهبري پلاوي مراجعینو ته د اسانتیاوو رامنځته کولو په موخه ناسته وکړه

د مالیــې وزارت د عوایــدو لــوی ریاســت د ۱۴۴۵ کال د رهبري پلاوي لسمه ناسته د عوایــدو لــوی رئیس ښــاغلي حافظ مولوي شاه حسین حسیني په مشرۍ ترسره سوه. پــه دغــه ناســته کــي، چــي د عوایــدو لــوی ریاســت ټولــو رئیســانو او آمرینــو حضــور درلــود، د ۱۴۰۲ مــالي کال د عوایــدو هــدف تــه د رسېدو پــر څرنگــوالي، د مراجعینــو د وخــت ضائــع کېــدو د مخنیــوي پــه موخــه د سیســتم لــه لاري د اظهارنامــو د وېــش، صرافانــو تــه



د مالیــه ورکوونکــو د تشــخیصیه نمبرونــو د وېــش او یــو لــړ نــورو مهمــو موضوعاتــو، پــه اړه بحــث وســو. د عوایــدو لــوی رئیــس ښــاغلي حافــظ مولــوي شــاه حسین حســیني پــه خپــلي وینــا کــي وویــل، چــي د مراجعینــو کارونــه بایــد د سلســه مراتبــو پــه نظــر کــي نیولــو سره ترسره سي؛ ترڅــو د مراجعینــو کارونــه ونــه ځنډېــږي، همدارنگــه ئــې ټولــو ریاســتونه تــه سپارښــتنه وکــړه، چــي همېشــه لــه مراجعینــو سره نېــک چلنــد او ښــه رویه وکــړي.

## د مالیې وزارت د یو شمېر ریاستونو لپاره نوي رئیسان معرفي سول

د مالیــې وزارت رهــبرۍ د اړیــن لــزوم دیــد پــر بنســټ؛ پــه چــارو کــي د لا ښــه والي او کار اهــل کار تــه د ســپارلو پــه موخــه، د دغــه وزارت د یــو شــمېر ریاســتونو لپــاره نــوي رئیســان معــرفي ســول. مفتــي عبدالغفــار ســلیم د عوایــدو لــوی ریاســت د تحقیــق، پــلان او نظــارت د رئیــس پــه توگــه، مولــوي عبدالمجیــد نجیــب اللــه د عوایــدو لــوی ریاســت د ولایتــي عوایــدو د پراختیــا او همغــږۍ د رئیــس پــه توگــه او عمــران احمــد فرهــان د مالیــې وزارت د معلومــاتي ټکنالــوژۍ د رئیــس پــه توگــه، معــرفي ســول او پــر خپلــو دنــدو ئــې پیــل وکــړ. د مالیــې وزارت پــه ادارو کــي د رهــبرۍ د لــزوم دیــد پــر بنســټ تغییــر او تبدیــل یــو اصــل دئ، چــي موخــه ئــې د مســؤلینو ترمنــځ د تجربو شریکــول دي.




## د عوایدو لوی ریاست اړوند د بررسۍ ریاست کارکوونکو ته روزنیز پروگرام جوړ سو

د مالیــې وزارت د گمرکونــو او عوایــدو مــلي اکاډمــۍ لــه تدریــسي پــلان سره ســم د دغــه وزارت د عوایــدو لــوی ریاســت اړونــد د بررســۍ ریاســت (۴۰) تنــو کارکوونکــو تــه روزنیــز پروگــرام جــوړ کــړ. پــه دغــه غونــډه کــي د عوایــدو لــوی ریاســت عملیــاتي مرســتیال حافــظ خلیــل احمــد ابــو احســان، د بــشري سرچینــو رئیــس مولــوي احمدشــاه شــاکر، د عوایــدو لــوی ریاســت د بررســۍ رئیــس انجنیــر خــان محمــد ذاکــر او یــو شــمېر نــورو مسؤلینو گــډون کــړی وو. د عوایــدو لــوی ریاست عملیــاتي مرســتیال حافــظ خلیــل احمد ابــو احســان د دغــه پروگــرام پــه پرانیســتې وینــا کــي وویــل، چــي د اسلامي امــارت زړه ســواندو مشرانــو تــاسي د خلکــو د خدمــت او د هغــوی د ســتونزو د حــل په موخه ټاکلي یاســت؛ نــو د همــدې اســلامي نظــام د بقــا لپــاره، د مســلکي پوهــي د ترلاســه کولــو او د وړتیــا لوړولــو سربېــره هڅــه وکــړئ، چــي د مادیاتــو پــر ځــای معنویاتــو تــه لومړیتــوب ورکــړئ او خپــلي دنــدې پــه پــوره صداقــت، ژمنتیــا او ایمانــدارۍ پرمــخ یوســئ. د بــشري سرچینــو رئیــس مولــوي احمدشــاه شــاکر پــه خپلــو خــبرو کــي وویــل، چــي وړتیــا لوړونــه او د پوهــاوي لــوړول



ســتاسي لــه مهمــو مســؤلیتونو څخــه شــمېرل کېــږي، هڅــه وکــړئ، چــي لــه دې پروگرام څخه په استفادې خپــلي وړتیاوي لــوړې او خپــل اداري، دینــي او ایمانــی مســؤلیت ادا کــړئ. پــه پــای کــي د (بــررسي او خدماتــو د عرضــې) تــر نامــه لانــدي د تېــري روزنیــزي دورې (۱۲۸) تنــو فارغینــو تــه تصدیــق پاڼــي ورکــړل ســوې او پروگــرام د دعایــې پــه ویلو سره پای ته ورسېد. د یــادوني وړ ده، چــي دغــه پروگــرام بــه درې اوونــۍ دوام ولــري او گډونوالــو تــه پکښــي مالیــاتي قوانیــن، مالیــاتي طرزالعملونــه او سیســتمونه (ســیگتاس او اي فایلینــگ) پــه عمــلي او نظري بڼه تدریســېږي.

## ریاست سمع شکایات مالیه دهندگان به (۳٦۵) شکایت رسیدگی کرده است

ریاســت ســمع شــکایات مالیــه دهنــدگان معینیــت عوایــد و گمــرکات وزارت مالیــه در ســه مــاه اخیــر ســال مالــی گذشــته (۱۴۰۲ هـــ.ش) بــه (۳٦۵) شــکایت رســیدگی کــرده اســت. در سـه مـاه اخیر سـال مالـی (۱۴۰۲هــ.ش)، صدها مالیـه دهنده (اصنـاف و نماینـدگان شرکت ها) شـکایات خویـش را در زمینه هــای مختلــف پرداخــت مالیــات بــه ریاســت مذکــور ارســال کــرده بــود، کــه کمیتــه تخنیکــی ارزیابــی شــکایات ریاســت مذکـور از جمـع تمـام شـکایت های شریک شـده بـه (۳٦۵) شــکایت پــس از ارزیابــی دقیــق رســیدگی کــرده اســت. ریاســت ســمع شــکایات مالیــه دهنــدگان بــا تیــم مســلکی و تخنیکــی خــود جهــت رســیدگی بــه شــکایات مالیــه دهنــدگان بــه ســاحه مــی رود و هــر مالیــه دهنــده کــه از مالیـه تثبیـت شـده رضایـت نداشـته باشـد، بـه شـکایت وی رســیدگی کــرده و رضایــت کامــل اش را بــه دســت میآورد.



شتمني
SHTAMANI
اوونیزه

# مالي بازارونه او په افغانستان کې ئې اړتیا

استاد عبدالجبار وحدت
د ملي بوديجې اجرائیوي رئیس

مالي بازارونه هغه ځه دي چېرته چې د مالي او پولي وسایلو تبادله صورت نیسي، مالي جریانات اسانوي او د مازاد پانګې لرونکو څخه ضرورت لرونکو کسانو ته د پانګې د جریان او انتقال اسانتیاوې برابروي. مالي بازارونو ته د اقتصاد اساسي شریانونه هم ویل کېږي او د ډیجیټلي اقتصاد زړه ئې بولي. دا چې په افغانستان کې به ئې په اقتصادي برخه کې اغېزې څه وي؟ همدا پوښتنه د دې لیکنې اساسي برخه ده. مالي بازارونه د نننۍ پرمختللې نړۍ په اقتصادي ډګر کې خاص ځای لري او دا کاملاً یو تخصصي بحث دئ. د ونډو، بیه لرونکو پاڼو، بونډونو او مالي وسایلو (securities) بحثونه له ځانګړې اهمیت څخه برخمن بحثونه دي. هغو هیوادونو، چې د اقتصادي پرمختګ په لورې ئې قدم ایښی دئ او مالي سیستمونه ئې جوړ دي، هلته مالي بازارونو حتماً خپل رول لوبولی او ډېره ښه پایله ئې ورکړې ده. د هیوادونو په مالي او پولي سیستمونو کې مالي بازارونه له ځانګړي ارزښت څخه برخوردار دي.

مالي بازارونه (Financial markets) د یوه هیواد په اقتصادي وده کې ځانګړی او مهم رول لري. په ځانګړي ډول وروسته پاتي هیوادونه د پانګې له سخت کمښت سره مخ دي او مالي بازارونه هغه څه دي چې د مالي وسیلود انتقال په برخه کې اسانتیاوې رامنځته کوي. مالي بازارونه د هیواد اقتصاد غښتلی کوي، د پانګې شکل او د پانګوني فرصتونه رامنځته کوي او IRR ئې لوړ دئ. د پیسو د استهلاک مخنیوی کوي، په لویه کې مالي او پولي جریان اسانوي او اقتصادي څرخ په حرکت راولي. دا چې اوس تجارت هم نړیوال سوی دئ او نړیوالتوب د مالي بازارونو د رامنځته کېدو قوي لامل دئ. له بل پلوه د مالي بازارونو په شتون کې د هیواد مالي سیستم پیاوړی کېږي او د هیوادوالو مالي اړتیاوې په مؤثر او مثمر ډول رفع کېږي، بانکي سکتور ته پیاوړتیا وربښي او همدارنګه د افغانستان د اقتصادي پرمختګ لپاره مالي بازارونه یو مهم ادرس کېدای سي. د مالي بازارونو سوژه په افغانستان کې کاملاً نوې ده. نو اړتیا دا ده، چې په دې موضوع علمي څېړني



وسي، مرکزي بانک او مالیې وزارت ته بویه چې د مالي بازارونو د ایجاد لپاره دقیقې او سنجیده پالیسۍ او ستراتېژۍ تدوین کړي او د هیواد اقتصادي څرخ ته له همدې ادرس څخه حرکت ورکړي. مالي مارکېټونه، په پانګونه، مالي جریاناتو، د پانګوني په کاري مولدیت، ګټه، مصارفو، سرعت، دقت، کیفیت او کمیت باندې واضح او د پام وړ اغېزې لري. بناً اړتیا ده، تر څو د مالي بازارونو فرهنګ په خپل هیواد کې ترویج کړو او د یادو مارکېټونو د ایجاد لپاره د اسلامي شریعت په رڼا کې یو جامع تخصصي میکانیزم رامنځته کړو.

# اعلانات داوطلبی

## د هلمند ولایت د مستوفیت یو باب مزاد الضرورت ملکیت د مزایدې خبرتیا!

د هلمند ولایت مستوفیت خپل اړوند یو باب مازاد الضرورت ملکیت، چې (۲٤۸۰) متره مربع مساحت درلودونکی دئ، چې د لښکرگاه ښار په مرکز لومړۍ ناحیه بُست جاده کې موقعیت لري د مزایدې له لارې د دریم ځل لپاره اعلان ته سپاري. ټول هغه اشخاص او شرکتونه، چې د یاد ملکیت د قرارداد غوښتنه لري، کولای سي خپل غوښتنلیکونه د اعلان له نشر څخه د (۷) کاري ورځو په موده کښې د رمضان المبارك میاشتي تر (۲۰) مې نېټې پوري د هلمند ولایت مستوفیت ته وسپاري او خپله دي د همدې میاشتي په (۲۱) مه نېټه د داوطلبۍ هیئت ته حاضر سي او د شرطپاڼې له کتلو وروسته تضمین نقداً اخیستل کېږي.

## د داوطلبۍ خبرتیا!

د افغانستان اسلامي امارت د مالیې وزارت پر شرایطو برابر ټولو داوطلبانو ته بلنه ورکوي، چې (د گمرکونو لوی ریاست د اړتیا وړ ۲۵ عرادې موټر سایکلونو د تهیې او تدارك) په پروژه کې، چې تشخصیه نمبر ئې (NCB/G/۱٤۰۳/MOF-۰۰۳) دئ او د داخلي پرانیستي داوطلبۍ په بڼه ترسره کېږي برخه واخلي او شرطپاڼه ئې په پښتو او دري ژبه د فلش یا میموري له لاري د شرطپاڼې له شرایطو او د تدارکاتو له قانون او طرزالعمل سره سم له لاندې پتو څخه ترلاسه کړي.

تر داوطلبۍ وړاندې د جلسې ټاکلې نېټه:

د (حمل ۱۸مه۱۴۰۳) د سهار ۱۰:۰۰ بجې.

د آفرگشایي ټاکلې نېټه: د (حمل ۲۷ مه ۱۴۰۳) د سهار ۱۰:۰۰ بجې.

د آفر تضمین: شپیته زره ( ۶۰۰۰۰) افغانۍ.

ځای: پښتونستان واټ، د مالیې وزارت، دوهم پوړ، د تدارکاتو ریاست – د تدارکاتو مشاوریت

د اړیکو شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤۱٥٦

## اعلان مزایده (۲) غرفه واقع تعمیر ۱۴ منزله سینما پامیر مربوط ناحیه اول شاروالی کابل!

ریاست عمومی املاك دولتی وزارت مالیه دو جایداد ذیل را از طریق پروسه داوطلبی به شکل آفر سر بسته طور جداگانه به اعلان مزایده می پسارد.

۱- یک باب غرفه نمبر ١٤ به مساحت (٥,٠٤) مترمربع واقع منزل اول تعمیر١٤ منزله سینما پامیر مربوط ناحیه اول شاروالی کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۱۳۱۰۰) افغانی.

۲- یک باب غرفه نمبر۱۳ به مساحت (٦,٠٩) مترمربع واقع منزل اول تعمیر١٤ منزله سینما پامیر مربوط ناحیه اول شاروالی کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۲۰۵۰۰) افغانی.

کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ٦٩,١٧٢١٩-٣٤,٥١٣٤٢

اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن جایداد های متذکره را بالاتر از مبلغ ذکر شده باشند میتوانند در خواست های شان را بعد از تاریخ (۷/حمل/۱۴۰۳ الی ۲۱/حمل/۱۴۰۳ ) به ریاست عمومی املاك دولتی تسلیم نموده شرطنامه را اخذ نمایند.

تاریخ مجلس آفرگشایی: ۲۸ / حمل ۱۴۰۳ به ساعت(۹:۳۰) قبل از ظهر میباشد.

آدرس: سینما پامیر تعمیر ١٤ منزله ،منزل٥، مدیریت عمومی ارزیابی قرار داد های مرکز

شماره های تماس: (۰۲۰۲۹۲٤٦۲۳-۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤)

## اعلان داوطلبی

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا در داوطلبی پروژه (تهیه و تدارك ٥ قلم تجهیزات تکنالوژی معلوماتی برای سیستم افمس) دارای نمبر تشخیصیه NCB/G/١٤٠٣/MOF-٠٠٤ که به روش داوطلبی باز داخلی صورت میگیرد اشتراك نموده و شرطنامه را به لسان پشتو و دری ذریعهء فلش میموری از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه، قانون و طرزالعمل تدارکات عامه اجراء میگردد بدست آرند.

جلسه قبل از آفرگشایی: تاریخ ١٥/ حمل/١٤٠٣ ساعت ١٠:٠٠ قبل از ظهر میباشد.

تاریخ مشخص آفرگشایی: تاریخ ٢٥/ حمل /١٤٠٣ ساعت ١٠:٠٠ قبل از ظهر میباشد.

تضمین آفر: به مبلغ ٤٠٠،٠٠٠ (چهار صد هزار) افغانی میباشد.

آدرس :وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان – ریاست تدارکات ،مشاوریت تدارکات منزل دوم.

شماره تماس دفتر: ٠٢٠٢٩٢٤١٥٦

## دعوت به داوطلبی

امارت اسلامی افغانستان ازتمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تادر داوطلبی (پروژه بلند نمودن دیوار شرقی گمرك کابل) دارای نمبر تشخیصیه NCB/W/١٤٠٣/MOF-٠٠١ که به روش داوطلبی باز داخلی صورت میگیرد اشتراك نموده و شرطنامه را به لسان پشتو و دری ذریعهء فلش میموری از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه، قانون و طرزالعمل تدارکات عامه اجراء میگردد بدست آرند.

جلسه قبل از آفرگشایی: تاریخ ١٦/ حمل ١٤٠٣/ ساعت ١٠:٠٠ قبل از ظهر میباشد.

تاریخ مشخص آفرگشایی: تاریخ ٢٦/ حمل ١٤٠٣/ ساعت ١٠:٠٠ قبل از ظهر میباشد.

تضمین آفر: به مبلغ ٤٠,٠٠٠ (چهل هزار) افغانی میباشد.

آدرس: وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان – ریاست تدارکات، مشاوریت تدارکات منزل دوم.

شماره تماس دفتر: ٠٢٠٢٩٢٤١٥٦

## د کابل ښاروالۍ لومړۍ ناحیې اړوند د سینما پامیر ۱۴ پوړیزي ودانۍ په لومړي پوړ کي د (۲) بابه غرفو د مزایدې خبرتیا!

د مالیې وزارت د دولتي املاکو لوی ریاست غواړي، چي لاندي (۲) دولتي ملکیتونه په جلا جلا ډول د مزایدې لپاره اعلان ته وړاندي کړي.

۱- د سینما پامیر (۱۴) پوړیزي ودانۍ په لومړي پوړ کي یو باب (۱۴) مه شمېره غرفه، چي (۵،۰۴) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۱۳۱۰۰) افغانۍ ده.

۲- د سینما پامیر (۱۴) پوړیزي ودانۍ په لومړي پوړ کي یو باب (۱۳) مه شمېره غرفه، چي (۶،۰۹) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۲۰۵۰۰) افغانۍ ده.

کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ٦٩,١٧٢١٩-٣٤,٥١٣٤٢

ټول هغه حکمي او حقیقي اشخاص، چي غواړي ذکر سوي ملکیتونه له ټاکل سوي قیمت څخه په لوړه کرایه ونیسي، کولای سي، چي خپل غوښتنلیکونه د (۱۴۰۳/حمل/۷ مي نېټې څخه د ۱۴۰۳/حمل/۲۱) مي نېټې پوري د دولتي املاکو لوی ریاست ته وسپاري او شرطپاڼه دي ترلاسه کړي.

د آفرگشایي ټاکلې نېټه: د اختر۷مه (حمل ۲۸مه ۱۴۰۳) د سهار (۹) بجې او (۳۰) دقیقې.

ځای: سینما پامیر، ۱۴ پوړیزه ودانۍ، ۵ پوړ، د دولتي املاکو لوی ریاست – د مرکزي تړونونو د ارزوني لوی مدیریت.

د اړیکو شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤٦۲۳ -۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤

د امتیاز خښتن: د ماليې وزارت
مسؤل مدیر: احمد ولي حقمل
مرستیال: شمس الدین عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندې

ویبسایټ: mof.gov.af
اېکس پاڼه: Afghanistan mof
یوټیوب: afghanistan mof
شمېره : ۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰(+)

شتمنی SHTAMANI اوونیزه






## MoF Inks Agreement with Private Company for Establishing Commercial Market




An agreement was signed between MoF and a Private Construction Company for the construction of a large and standard commercial building in Mirwais Maidan (Kota Sangi) area of Kabul city, which will be built at a two-Jirib land. Accordingly, a multitude of high-ranking officials of IEA were present in the session organized in this regard. Kamal Zafar Private Company will build 300 commercial shops on 12-floor-market with an investment of 4.5 USD in this trading market. MoF assures that the 'agreement of establishing commercial market' will provide job opportunity for hundreds of people directly. The commercial center will be built in triennial period, which will deposit 38 million Afs to the state treasury. It is worth mentioning that in this meeting, contracts of four billion Afs for crucial and prestigious projects in the fields of electricity generation and construction were signed between some other state bodies and private domestic and foreign companies.

## Hundreds of Employees of Previous Regime Given Monthly Asad Salaries of Y1400



Based on the proposal of the Security and Special Operations Enforcement Unit of MoF and the order of the high authority of Prime Ministership of IEA; 1,216 former officers, sergeants and privates/ security guards of the said unit were given the salaries of the month of Asad of 1400 Hijri year, which remained on the previous regime. The salaries of these ex-employees were transferred according to the salary distribution norms of the previous regime with all the financial privileges. These employees include 128 officers, 215 sergeants and 873 privates/ security guards. Likewise, the bank accounts of some workers from this group were closed, and the commander of the unit gave official inquiries to confirm and open the account in the relevant bank, aftermath that they can get their salaries easily. The Special Operations Enforcement Unit protects the bodies of MoF, prevents illegal entry and exit of goods, smuggling of contrabands and revenue evasion.




## د پاک ـ افغان ټرانزیټي سوداګرۍ خبري نن پیلېږي



د ډان ـ DAWN په نوم یوې پاکستاني رسنۍ د افغانستان او پاکستان د ټرانزیټي سوداګرۍ په اړه یو راپور خپرو کړی دئ، چې وايي: «یو پلاوی کابل ته ځي او په کابل کې د ټرانزیټ او دوه اړخیزي سوداګرۍ په باب به د خنډونو د لیرې کولو له پاره خبرې وکړي.» په راپور کې د پاکستان د خارجه دفتر ویانده ممتاز زهرا بلوڅ وايي، چې د پاکستان د سوداګرۍ دارالانشاء مسؤل خرم آغا په مشرۍ به دوه ورځنۍ دوره تر سره سي. په دې تړاو بیا له بلې خوا د افغانستان د صنعت او سوداګرۍ وزارت ویاند جواد صاحب وايي: «موږ به د ځو ټرانزیټي توکو د بندیز موضوع مطرح کړو. پاکستان د ټرانزیټي تړون په اساس د ځینو توکو پر واردولو بندیز لګولی دئ.» راپور زیاتوي، چې دا ډول د خبرو موقع په داسي وخت کې دائرېږي او زمینه ئې مساعدېږي، چې پاکستان د مارچ په (۱۸.) نېټه د افغانستان پر دوو ولایتونو هوایي بریدونه وکړل. د افغانستان د شارژدافیر سردار شکیب احمد په اړه هم یوه جمله سته، چې وايي دی په اسلام اباد کې د خپلو ناستو په اړه چارواکو ته د معلوماتو ور کولو له پاره کابل ته ورغی او بیا ئې د افغانستان د بهرنیو چارو له وزیر امیر خان متقي سره «د پاک ـ افغان د وروستیو پرمختګونو» په تړاو معلومات ارایه کړل. په راپور کې د وارداتي محصول د لوړېدو په اړه هم یوه کرښه بیان کوي او زیاتوي، چې خان جان الکوزي د پروسږکال په اکتوبر کې د افغان ټرانزیټي سوداګرۍ په وارداتو کې د ٪(۱۰) ډېروالي یادونه وکړه او وايي، چې: "د وارداتو محصول ٪(۱۰) لوړ سوی دئ." الکوزي دوه نور ټکي هم ذکر کړي دي، چې وايي په پاکستان کې د سرپرست حکومت په درشل کې د افغان واردوونکو له پاره ډېرې ستونزې جوړې سوي دي او بل دا چې د پاکستان له لارې د ټرانزیټ کمېدو په صورت کې په سوداګریز لحاظ افغان واردوونکو ایراني بندرونو ته مخ اړولی دئ. د پاک ـ افغان د سوداګرۍ او صنایعو د ګډې خونې (PAJCCI) همغږي کوونکي ضیاالحق سرحدي په راپور کې تائید کړې ده، چې وايي په اکتوبر کې د پاکستان د سوداګرۍ وزرات SRO 1380 تر صدور وروسته «د افغانستان د ټرانزیټي سوداګرۍ پر ١٤ توکو ئې بندیز و لګاوه»، چې وايي د ٪(۱۰۰) بانکي فشار پلي کېدو له مخې تقریباً و (۲۱۲) توکو ته رسېږي.

## Numerous Contrabands Seized in Kandahar, Herat, Nimroz Provinces Amid MoF' Customs Investigations

Mobile Surveillance Staffs of Kandahar, Herat and Nimroz Customs have prevented the smuggling of some illicit in different areas of these provinces. The seized contrabands include 1,350kg of chocolate, 200kg of dry milk powder, 721kg of medicine and 675kg of dates. According to the report of MoF' customs, the smugglers wanted to bring the said amount of illicit goods to the country secretly. Additionally, the said staffs have also seized 3,000kg of copper and aluminum, which the smugglers planned to smuggle to the neighboring country. The mentioned amounts of contrabands have been handed over to the relevant customs for further processing.